نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۶/۲۹

# د پاکستان انزوا د هند او چین سیالي

**کله چې له یوې جګړې څخه موږ افغانان احتمالي د وتلو لاره پیداکوو، د بلې جګړې نښې نښانې راڅرګندیږي.**

په تیرو ۱۵ کلونو کې په بېلابېلو وختونو کې د سولې تر نوم لاندې هڅې او اعلانونه شوي، ولې معلومیږي چې دا ټول یواځې دروغ، د افغان او امریکایي ولسونو غولول وو.

ماته هغه خبره رایاده شي چې ملاعبدالسلام ضعیف په خپل کتاب My Life with the Taliban کې لیکلي چې کله پر افغانستان د امریکا له خوا د پاکستان په مرسته د حملې ترتیبات نیول کیدل، د پاکستان د آی ایس آی مشر راته وویل چې کله تاسې له امریکا سره جهاد پیل کړئ موږ به ستاسې افغانانو زیاته مرسته وکړو.

داچې پاکستان پر افغانستان د امریکا حملې سره موافق او مرسته کوونکې هیواد وو، د امریکا سره په ډیرو پټو رازونو کې خبر او شریک وو، مګر بیا هم په افغانستان کې د امریکا مقابل کې د افغانانو د جهاد سره د مرستې خبره کوي، داسې بریښي چې دلته د جګړې د دوام پلان امریکا درلود او په دې برخه کې ورسره پاکستان مرستندویه وو.

نښې نښانې داسې ښکاري چې د پاکستان اړوند د امریکا تګلارې بدلون موندلی، امریکا له هند سره ملګرتیا ټینګه کړې، هند ته به په سیمه کې د نفوذي هیواد پر رول قایل وي، هند به د چین سره سیالی ته هڅول کیږي، تر څو د هند تیز اقتصادي پرمختګ دب کړي، د هند اوپاکستان تر منځ د پولو پر سر د تاوتریخوالي جګړو ډګر به داخل د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته رامنتقل کیږي، پاکستان به په کور دننه له مخالفتونو سره بوخت وي، هند به پرمختګ کوي او پاکستان به انزوا کې ساتل کیږي.

## د امریکا او پاکستان ترمنځ ترینګلتیا

کله چې د شوروي اتحاد سره د جهاد پرمهال افغان مجاهدین قوي شول، روسانو د خپلو پوځیانو د ایستلو هوکړه وکړ، روس پلوه افغان حکومت ورځ تر بلې کمزوري خواته روان وو، په هغه وخت کې د امریکا تګلاره د پاکستان په وړاندې بدله شوه، د پاکستان دوخت ولسمشر جنرال ضیاء الحق او د پاکستان د هغه وخت د آی ایس آی مشر جنرال اختر عبدالرحمن او نور لوړ پوړې پاکستاني مشران د الوتکې د لویدو له کبله ووژل شول، په داسې حال کې چې د امریکا سفیر په اسلام آباد کې راپیل هم په همهغه الوتکه کې وو او ټول ټال ۳۱ کسان پکې ووژل شوو، د هغه وخت رسنیو راپوررونه ورکول چې دا لوبه امریکا وکړه.

د امریکا او پاکستان اړیکي له دې پیښې وروسته ترینګلې شوې، تر دې چې جنرال حمیدګل د پاکستان د آی ایس آی د هغه وخت مشر امریکا ته وویل که په خپله پاکستان ضد تګلاره کې بدلون رانه ولې نو پاکستان به اسلامي نړۍ د


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

امریکا پرضد وهڅوي. هغه وخت هم امریکا نه غوښتل چې پاکستان دي د آټوم بم لرونکی هیواد وي، ولې په ګاونډ کې هند اټومي بم وار له مخه ازمویلی وو.

اوس چې له افغانستان څخه د اوږدي ۱۵ کلني جګړې وروسته د امریکا اوناټو ډیر پوځیان وتلي، ویل کیږي چې نږدې ۱۰۰۰۰ امریکایې پوځیان او څو زره ناټو پوځیان شتون لري، یوځل خو د امریکا پوځیان تر لس زره هم کم پاتې شول، ولې د طالبانو په لاس د کندز تر سقوط وروسته چې د هلمند ولایت د سقوط خبرونه هم ورکول کیدل، امریکا او بریتانیا خپل تازه دمه پوځیان بیرته افغانستان ته له طالبانو سره د جګړې لپاره راولیږل.

دادی بیا د پاکستان او امریکا په اړیکو کې ترینګلتیا لیدل کیږي، د پاکستان چارواکي څرګندوي چې امریکا تر هغه وخت له پاکستان سره ښې اړیکي پالي چې کله یې اړتیا وي، او چې اړتیا یې نه وی بیا له پاکستان سره د ښو اړیکو په اړه فکر نه لري.

بلخوا بیا امریکایې سیاستوال په وازه خوله د پاکستان پر تګلاره نیوکې کوي، پر پاکستان د امریکا د مرستو د بندیدو غوښتنه کوی، د ایف ۱۶ الوتکو د ورکولو تعهد د ځنډیدو خبره او که چیرته ورکول کیږي هم باید پاکستان یې پیسې ورته له خپلې بودیجې څخه ورکړي.

امریکایې چارواکو او د کانګرس غړو پر پاکستان تور لګولي چې په سیمه کې د ترهګرو مرسته کوي، او د حقاني شبکې پر ضد عملیات نه کوي.

په دې وروستیو وختو کې د امریکا او پاکستان اړیکې ورځ تر بلې ترینګلتیا لورته رواني دي، د اړیکو دغه ډول ترنګلتیا د افغانستان او سیمې په حالاتو مثبت او منفي دواړه تاثیرات لري.

## د هند نفوذ؛ چین ته تهدید او د پاکستان انزوا

کله چې د هند له پاره نریندرا مودي لومړی وزیر انتخاب شو، امریکا ته د ورتګ بلنه ورکول شوه، مودي وځنډوله، خو د امریکا ولسمشر باراک اوباما څو قدمه نور هم مخکې ولاړ، هند ته یې سفر وکړ، د هند سره بېلابېلو برخو کې قراردادونه لاسلیک کړل، په نظامي برخه کې یې هم د هند د پرمختګ ننګه او ملاتړ وکړ.

د اوباما سفر هند ته پر چین او پاکستان بد تاثیر درلود، پاکستان نهیلی شو، او د اوباما دغه ډول سفر او له هند سره نږدې دوستي ته یې د شک په سترګه وکتل، پاکستاني چارواکو هڅې وکړې چې د هند او امریکا اړیکي ګډې وډې کړي، او بیرته وکولای شي چې د امریکا اړیکې په سیمه کې له پاکستان سره ورغوي، د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف له خپلې میرمنې او لورګانو سره امریکا ته سفر وکړ، ولې د پاکستان هڅو تر ډیره نتیجه ورنه کړه.

هند ته د اوباما سفر پاکستان او چین وارخطاء کړل، هند ته د اوباما تر سفر درې میاشتي وروسته د چین ولسمشر شي جن پنګ پاکستان ته سفر درلود، له پاکستان سره یې نږدې ۴۶ ترونونه په اقتصادي، تجارتي، رسنیو او بېلابېلو برخو کې د میلیاردونو ډالرو په لګولو سره لاسلیک کړل، د پاکستان هیواد د امنیت اړوند یې ژمني وکړي، او د پاکستان سره د لازیاتو مرستو هوډ یې څرګند کړ.

پاکستان په ډیر مهارت سره د چین سره د اقتصادي لویې پروژې لاره د هند سره د اوږدې پولې په څنګ کې په نبنه کړه، که دغه کار وشي نو داچې پروژه نړیواله ده، هند به کله هم بیا ونشي کولای چې په دغه اوږده پوله کې د پاکستان پر ضد تحرکات وکړي.

د چین او پاکستان د اقتصادي ترونو وروسته هند د امریکا په مرسته په سېمه کې ډېر زیات فعاله شو، د پاکستان او چین د ګډې لویې اقتصادي پروژې ګوادر په مقابل کې د چابهار بندر د هند، ایران او افغانستان لخوا په بیړنی ډول رسماً پرانستل شو، چې پاکستان او چین ته لویه اقتصادي ضربه وه، ځکه د چین او پاکستاني د اقتصادي ترونو لویه برخه همدا ګوادر بندر اړوند تاسیسات دي، دا ډول مودي په هرات کې د سلما بند د پرانستلو په غونډه کې برخه واخیستله، د افغان حکومت لخوا یې تود هرکلی وشو، له دې وروسته مودي د امریکا کانګرس ته د وینا پرمهال وویل چې په افغانستان کې د هند او امریکا ګټې مشترکې دي، او د هند په ګاونډ کې د تروریزم ځالې دي.

هند پرته له شکه پرمختګ کوي، د امریکا ملاتړ له ځان سره لري، داچې نور نو پاکستان د امریکا ګټې په سېمه کې نه شي خوندي کولای، امریکا ترجیح ورکوي چې په سېمه کې د چین د اقتصادي او نورو برخو کې د پرمختګ د مخنیوي له پاره له هند څخه کار واخلي، هغه هند چې وار له مخه له چین سره د پولو ستونزه لري.

پاکستان بیا هڅې وکړې چې د امریکا سره ستونزه لرونکې ولادیمیر پوتین سره اړیکې ورغوي، ولې داچې د شوروي اتحاد لخوا پر افغانستان د یرغل پرمهال پاکستان د جګړې د ګرمیدو د تنور حیثیت درلود، تر ډېره فکر کیږي چې روس به پر پاکستان اعتبار ونه کړي.

برعکس روس به په ځینو مواردو کې پر هند ځکه باور ولري چې هند او روس له تیرو وختو څخه د ښو اړیکو او دوستي شالید لرې.

## د بلې جګړې نښې نښانې

هند غواړي چې د امریکا په مرسته په سېمه کې نفوذې هیواد وي، پاکستان چې اوس مهال د هند په پرتله کمزوری حسابیږي، هند غواړي هغه جګړې او ستونزې چې د هند – پاکستان پر پوله یې درلودلې، په مهارت سره د افغانستان – پاکستان پولو ته انتقال کړي، او خپل ځان د پاکستان له سرحدي ستونزو څخه خلاص کړي، تر څو د امریکا په مرسته د چین سترو اقتصادي پروژو دعملي کولو مخه ډب کړي.

داسې راپورونه شته چې د هند ځینو وګړو د ډیورنډ دواړو لورو پښتنو لهجو د زده کولو کوشش کړی، له افغانستان څخه د پښتو ژبې استادان هند ته بلل شوي، اوس ځینې داسې هندوان هم شته چې په پښتو ژبه رواني خبرې او د بېلابېلو پښتني قومونو له لهجو سره بلد دي، په بلوچي ژبه او داچې بلوچان هم په اردو پوهیږي، مخکې له مخکې هند کار کړی.

د حامد کرزي د واکمنې پرمهال په افغانستان کې د هند نفوذ ته ډېر کار وشو، کرزي چې په هند کې یې زده کړې کړې، او د امریکا په اشاره یې د هند نفوذ ته کار وکړ، څوک پرې سترګې نه شي پټولای، هند چې اوسمهال په کندهار او جلال آباد کې فعالې کونسلګرۍ لري، او په تیرو ۱۵ کلونو کې د افغانانو او بلوچانو له دود او کلتور سره تر پخوا هم ښه بلد شوي، بل داچې د ډیورنډ کرښې دواړو لورو میشت قومونو اړوند به یې زیات او اړین معلومات راټول کړې وي، تر څو په راتلونکې کې ورڅخه استفاده وکړي، د هند دا ډول تحرکات هیڅکله پاکستان ته د منلو نه وو. او وخت په وخت پاکستان په یادو سېمو کې د هند د کونسلګریو مخالفت په ښکاره او پټه کړی دی. دا ډول هند په هرات کې هم کونسلګري لري، هلته چې هیڅ اړتیا یې نه لیدل کیږی. او په هرات کې د هند د کونسلګرۍ له شتون څخه بیا ایران په ویره کې دی.

پاکستاني رسنۍ راپورونه ورکوي چې د پاکستان د بلوچستان ایالت په ګډوډیو کې هند لاس لري، هند خپله لاس وهنه ردوي، ولې داچې هند په کندهار کې کونسلګري لري، افغانستان هم له پاکستان څخه ښې خاطرې نه لري، او پاکستان د افغانستان په کورنیو چارو کې په مداخله تورنوي، فکر کیږي چې هند او افغانستان به په ګډه د بلوچانو مرسته په پټه کړي وي، او که دبلوچانو مرسته دوام پیداکړي، دابه د پاکستان د دوه مخي تګلارې جواب وي، او پاکستان به له لویو ستونزو سره مخ شي.
که د پاکستان لاسوهنې او د ډیورنډ پرکرښه د تاسیساتو جوړول او د افغانستان د خاوري لاندې کول دوام پیداکړي، د پښتنو او بلوچانو ځپلو ته دوام ورکړي، ممکن چې په بلوچستان کې هم تر پخوا زیاته ګډوډي د افغانستان او هند په مشترکو هڅو جوړې شي.
افغان رسنۍ په یوه خوله د پاکستان ضد څرګندونې او هند سره د نږدېوالي او دوستي له پاره کمپاین کوي، افغان ځوان نسل تر ډیره د رسنو او ځینو حقایقو په لیدو، په ځینو مواردو کې د پاکستان د ناسمو تګلارو له امله د پاکستان ضد ذهنیت لري، او غواړي چې له ټولو مشترکاتو چې د پاکستان له ولس سره یې لري، سترګې پټې او د هند دوستي ته ترجیح ورکړي.
خیبرپښتونخوا چې اوسیدونکي یې محروم پښتانه دی، د چین لویه اقتصادي پروژه چې په همدې لاره به د ګوادر خواته تیریدله، لورې یې د پاکستاني چارواکو لخوا د پنجاب خواته بدلون وموند، که د تورخم جګړې تکرار او تورخم تاسیسات دوام پیداکړي، د ډیورنډ پر کرښه د پاکستان د تاسیساتو جوړولو حرص همداسي پاتي شي، د ډیورنډ کرښې دواړو لورو ته پراته پښتانه به هم د بلوچانو په څیر متحرک او کیدای شي د پاکستان ضد دریځ کله خپل کړي، که هند او افغان حکومت د ډیورنډ دواړو لورو پښتنو د پاکستان ضد دریځ ننګه وکړي، دابه پاکستان ته بل سرخوږی وي، نو پاکستان به عملا د هند-پاکستان پولو په ځای خپله پاملرنه د ډیورنډ کرښې ته متوجه کړي، او بالاخره مجبوره به وی چې د هند سره پر پوله پروت پاکستاني پوځیان به خیبرپښتونخوا او بلوچستان کې د ډیورنډ کرښې ته را منتقل کړي.

## پاکستاني طالبان، داعش او القاعده

پاکستاني رسنیو په بېلابېلو وختونو کې راپورونه ورکړي چې د پاکستاني طالبانو مشر مولانا فضل الله د افغانستان خاوره کې میشت او له دې خایه پاکستان تهدیدوی، پاکستان ادعاء لري چې مولانا فضل الرحمن سره مالي مرسته د هند لخوا د افغان چارواکو په پټه مرسته کیږي، پاکستان پر کونړ د راکټي بریدونو یو لامل هم همدا ښیي چې په دی سیمه کې پاکستاني طالبان د پاکستان ضد تحرکات لري.
بلخوا بیا افغانستان پر پاکستان تور لګوي چې د افغان طالبانو مرسته کوي، د هغوی مالي سرچینې نه کنګل کوی، او د پاکستان خاوره کې افغان طالبانو ته د اوسیدو اجازه ورکوي.
هند چې له افغان طالبانو سره پخوانۍ ښې اړیکي نه لري، ویره لري که طالبان قوی شي د هند ګټې به متضرره شي، دا ډول هند له شمال جبهې غړو سره نږدې اړیکي لري، ویل کیږي چې د شمال جبهې د ځینو مشرانو کورنۍ او حتی ځینو د افغان اردو د جنرالانو کورنۍ په هند کې دي، هند د طالبانو د کمزورتیا له پاره کار کوي، په مقابل کې یې د شمال ټلوالې مرسته کوي.

داچې امریکا بیاځل د افغانستان جګړه کې له طالبانو سره د امریکایي پوځیانو مخامخ نښتې ته اجازه ورکوی، ځینې کارپوهان په دې نظر دی چې د هند به هم ورته غوښتنه وه، ترڅو امریکا وهڅوي چې د طالبانو د خپلو څخه لاس وانخلي.

پاکستان چې لاهم د دریو میلیونه افغان مهاجرو کوربه دی، افغان حکومت باندې همدا مهاجر د فشار د آلې په ډول کاروي، او د مهاجرو په کیمپونو کې هر افغان که هغه طالب وي، یا د افغان حکومت مخالف په اساني سره کولای شي هلته واوسي.

پاکستان به هڅه وکړي چې یو ځل بیا د القاعده جنګیالي په پټه او ښکاره د بیلابیلو لارو څخه وهڅوي چې هغوی بیاځل مخه افغانستان لورته راوکړي، ترڅو دلته د هند دنفوذ مخه ډب کړي.

داعش چې په ننګرهار کې فعال دي، تردېره فکر کیږي چې وګړې یې د ډیورنډ کرښې هاخوا اوسیدونکي دي، د داعش افغان جنګیالي چې د مسلم دوست تر مشرۍ لاندې یې فعالیت درلود، او د داعش پاکستاني جنګیالي چې د حافظ سعید تر مشرۍ لاندې یې په ننګرهار کې فعالیت درلود، په وروستیو وختونو کې لیدل کیږي چې مسلم دوست د حافظ سعید پر کړنو ناراضه دی. داسې راپورونه شته چې پاکستان ونه توانیدی چې داعش ډله د خپلو پاکستاني ګټو له پاره په سیمه کې وکاروي، ځو اونۍ مخکې یې اعلان وکړ چې دداعش پنځه تنه قومندانان د پاکستان پوځ ته تسلیم شوې، ولې ویل کیږي چې افغان حکومت په دې برخه کې له پاکستان څخه لوبه وړي.

## د افغانستان او پاکستان ولسونه

تر ډېره لا هم افغان ولس په دې ګروه دی چې پاکستان ولس د افغانانو سره دښمني نه پالي، او نه هم پاکستانی ولس د افغان ولس په بې عزته کولو او کمزوري کیدو ته لیواله دی، برعکس افغان ولس فکر کوي چې د پاکستا ن حکومت د افغانستان سره د ډیورنډ لیکې اړوند ستونزې لري، او له همدې امله د یو قوي افغانستان غوښتونکی نه دي.

طالبان چې د امریکا اوناټو سره په جګړه بوخت دي، ډیر وختونه د پاکستان حکومت له خوا ورته سرخوږی جوړ شوی. هغوی هم فکر کیږي چې له پاکستان څخه ښې خاطرې نه لري.

د طالبانو ځینې مشران چې د پاکستان په زندانو کې ووژل شول، ځینې زنداني شول، ځینو روحي او دماغي ناروغۍ پیداکړي، او بالاخره د طالبانو مشر ملااخترمحمد منصور چې فکر کیږي د پاکستان لخوا به دهغه اړوند معلومات له امریکا سره شریک شوي وی، هغه د بلوچستان د نوشکي سیمه کې د امریکا د بې پیلوټه برید لاندې راغی، داهغه څه دي چې طالبان به کله هم پر پاکستاني چاروکو اعتماد کولو ته زړه ښه نه کړي.

کله چې طالب، افغان حکومت، او افغان ولس (هغه چې نه د طالب او نه حکومت پلوي کوي) د پاکستان پر اوسنیو تګلارو خوښ نه وي، او پاکستان د ستونزو جرړه ګڼي، په دغسې یو حالت کې چې په پاکستان کې میشت دری میلونه مهاجر هم د پاکستان پولیسو لخوا رټل کیږي، لوټل کیږي او تحقیر کیږی، څه ډول به پاکستان وکولای شي چې په سیمه کې له هند سره مقابله وکړي. که پاکستان په خپلو افغان ضد تګلارو کې سمون رانه ولي، له افغانانو سره د اړیکو ښه کیدو کوشش ونه کړي، کیدای شي چې تر افغانانو یې ضرر ډیر پاکستانی ولس ته ورسیږي او ګټونکی یې هندی ولس وي.

که پاکستان فکر کوي چې د حقاني مدرسي ته په  درې میلونه ډالري بودیجي به په سېمه کي د هند دنفوذ مخه ونیسي، او یاداچي امریکا ته وښیي چې که له پاکستان سره اړیکي ونه رغوي نو پاکستان به د مذهبي ډلو مرسته وکړي، فکر کیري چې د پاکستان داتګلاره به هم کار ورنه کړی، ځکه همدا مولانا فضل الله او لطیف محسود او نور پاکستاني طالبان د همدي پاکستاني مذهبي مدرسو فارغان دي چې د پاکستان د ناسمو تګلارو له امله نن د پاکستان پوځ په مقابل کي جګړه کوي.

## نتیجه:

که افغان ولس له ځرکتیا څخه کار وانخلي او د پردیو د ګټو د جګړو مخه په خپل هیواد کي ونه نیسي، نو افغانان به بیاځل یوې بلې لس کلني جګړې ته ننوځي، که امریکا فکر کوي چې په زور او جګړو سره ولسونه مهارکولای شي، نو په تیرو ۱۵ کلونو کي به جګړه یوطر فه شوې وای، که هند فکر کوي چې د پاکستان او چین پر ضد به افغان ولس ددوی ملاتړ وکړي، افغان ولس هیڅکله د پردیو سره د نورو ملتونو په ځپلو او  ایل کولو کي مرسته نه ده کړي.

که پاکستان فکر کوي چې دافغانانو له کمزوري حالت څخه په ګټه اخیستلو به د ډیورنډ مسئله یوطرفه کړي او دغه لیکه به د ځان په ګټه ثبت کړي، نو دیته دي هم متوجه وي چې په لوی لاس به د بلوچو قومونو په ډول د ډیورنډ دواړو غاړو ته میشت پښتون قومونه هم د هند ملګرتیا ته مجبوره کړي، په بلوچستان او خیبرپښتونخوا کي به ناارمیو ته لاره هواره شي، او بیا جګړه د پاکستاني ولس په کورونو کي وي، هندي ولس به د افغان او پاکستاني ولس د جګړو ننداره کوي.
تر څو چې په افغانستان کي د سولي له پاره هڅي ونه شي،  د افغانستان جګړې اور به پاکستان، ایران، منځني اسیا او چین متضرره کوي، دا ډول د امریکا اقتصادي حالت به هم د امریکایي ولس د خوښي سره سم وده ونه کړي، بریتانیا چې په سېمه کي د پاکستان نفوذ غواړي، اوس اوس د اروپایي ټولني څخه یې ولس د جلاکیدو پریکړه وکړه، هغوی به هم په سېمه کي د پاکستان په کمزورتیا سره متضرره شي.
نظرمحمد مطمئن  - لیکوال او شنناند.

**پای**